**د لوړو زده کړو وزارت**

**وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه**

**د علمي او محصلانو چارو معاونیت**

**د شرعیاتو پوهنځی**

**لرلید:**

د شرعیاتو پوهنځی په پام کې لري چې د اسلامي او ملي ارزښتونو پر بنسټ د شرعي او ملي قوانینو په رڼا کې متخصص او وړ کادرونه وروزي او همداراز د هېواد او سیمې په کچه د یو دیني علمي مرکز په توګه وپېژندل شي.

**رسالت:**

شرعیاتو پوهنځی د یو دیني او علمي مرکز په توګه علمي، متخصص او په شرعي علومو سمبال کادرونه ټولنې ته وړاندې کوي، د شریعت د کلي قواعدو څخه د معاصرو فقهي مسائلو تحقیق کوي او اسلامي ارزښتونه تشریح او نشروي.

**موخې:**

- د خپلې ټولنې د ټولو شرعي او ټولنیزو اړتیاوو په نظر کې نیولو سره  متدین، په علمي ګاڼه سمبال، وړ او مسلکي کادرونه روزي.
- د تقنین،قضاء او افتاء په برخه کې د یوې قوې،دیني مرجع په توګه ژمن مسلکي کادرونه وړاندې کوي.
- د تعلیم او تحصیل اړوند اداراتو لپاره مسلکي ښوونکي او استادان روزي چې وکولای شي د هېواد راتلونکي بچیان په دیانت، مسلکي پوهه او د هېواد د سوکالۍ او پرمختګ په روحیه سمبال کړي.
- د ټولنې د سالمې رهبرۍ لپاره د متدېنو او زیار ایستونکو زعامتونو او قیادتونو وړاندې کوي.
- د شرعي مسائلو څېړنیزو مرکزونو ته د داسې څېړونکو روزنه چې د ټولنې د اوسمهال اړتیاوې او وړتیاوې په معیاري پوهنیزو طریقو سره تشخیص او حل کړي.
- دیني، فرهنګي او ملي روحیه پیاوړې کوي او د هر ډول تبعیض سره مبارزه کوي.

پورته د شرعیاتو پوهنځي لرلید او رسالت د شرعیاتو پوهنځي د علمي شورا په ۵ ګڼه او ۱۴۰۲/٦/۱ نیټه غونډه کې تائید شوي.

د شرعیاتو پوهنځی لرلید او رسالت د وردګ لوړو زده کړو مؤسسې په ۷ ګڼه او ۱۴۰۲/۸/۱۰ نیټه غونډه کې تائید دي.